# د ځايي (ابوريجنل) او د توريس سټريټ ټاپو اوسيدونکيو د غږ په اړه ريفرنډم (ټولپوښتنه)

ډير ژر به د استراليا له رايو ورکونکيو څخه وغوښتل شي چې په يوه ټولپوښتنه کې رايه ورکړي. دغه ريفرنډم به پوښتنه وکړي چې ايا په اساسي قانون کې پارلمان ته د ځايي او توريس سټريټ ټاپو اوسيدونکيو غږ بايد شتون ولري او که نه. پارلمان هغه ارګان دی چې د استراليا لپاره قوانين جوړوي .

## پارلمان ته د غږ پورته کول په څه مانا دي؟

غږ د ځايي او توريس سټريټ ټاپو خلکو لپاره يوه لاره ده چې دولت ته د هغو قوانينو په اړه مشوره ورکړي، چې پر دوی اغېزه کوي. په اساسي قانون کې د غږ ليکلو مانا به دا وي چې دغه غږ به دولت ته د هغو ستونزو په اړه د مشورو په چمتو کولو کې دايمي رول ولري چې پر ځايي او توريس سټريټ د ټاپو پر خلکو باندي اغېزه کوي. پارلمان ته غږ به د ځايي او توريس سټريټ ټاپو د خلکو لپاره يو فرصت وي چې د اساسي قانون له مخې وپيژندل شي او هم يې کلتور منلی او ولمانځل شي..

## ولې ځايي او د توريس سټريټ ټاپو خلک پارلمان ته د غږ غوښتنه کوي؟

ځايي او د توريس سټريټ ټاپو خلک له نږدې 100 کلونو راهيسې د دولت له لوري د پيژندل کېدو غوښتنه کوي. ځايي او د توريس سټريټ ټاپو خلک خپلې ټولنې او کلتور ښه پيژني. دوی د هغو ننګوونو سره د مقابلې لپاره غوره حلونه پيژني چې د دوی ټولنې ورسره مخ دي چې کولی شي د ځايي او توريس سټريټ ټاپو د خلکو لپاره د ژوندانه خورا عادلانه ، مناسبه تجربه رامنځته کړي..

## پارلمان ته به د غږ پورته کول څه رول ولري؟

د دغه غږ له مخې به د هغو ستونزو په اړه چې د دوی په ژوند اغېزه کوي د ځايي او توريس سټريټ ټاپو خلکو مشورې واورېدل شي، نو دولت کولی شي د هغو ستونزو په اړه ښې پرېکړې وکړي چې د ځايي او توريس سټريټ ټاپو په خلکو باندې يې اغېزه کړې ده.

## دغه غږ به څوک په پارلمان کې پورته کوي؟

غږ به د ليرې پرتو سيمو په شمول د هر ايالت او سيمې څخه د ځايي او توريس سټريټ ټاپو د خلکو د يوې ډلې له لوري وي. استازي به يې په خپله سيمه کې د ځايي او توريس سټريټ ټاپو د خلکو له لوري ټاکل کيږي.

## ايا د ځايي او توريس سټريټ ټاپو له خلکو سره په پارلمان کې د هغوی د غږ په اړه مشوره شوې ده؟

په زرګونو ځايي او د توريس سټريټ ټاپو خلکو مشوره ورکړې چې ولې د غږ پورته کولو ته اړتيا ده او دا بايد د څو کلونو لپاره او څه ډول کار وکړي. د 80% څخه ډېر ځايي او د توريس سټريټ ټاپو خلک پارلمان ته د دوی د غږ له پورته کولو څخه ملاتړ کوي.

## په دې اړه حقوق پوهان څه وايی؟

د اساسی قانون د وکيلانو په ګډون د فدرالی دولت استازو ووېل چې دا غږ له حقوقي اړخه ښه دی او زموږ د دولتولی په سيستم کې غوره والی رامنځته کوي.

## ايا دغه غږ کولی شي قوانين جوړ کړي؟

نه. دغه غږ به د قانون جوړولو واک ونه لري. دا به يوازې د هغو ستونزو په اړه مشوره وړاندې کړي چې د ځايي او د توريس سټريټ ټاپو پر خلکو اغېزه کوي.

## د ځايي او توريس سټريټ ټاپو د غږ ريفرنډم به کومه پوښتنه مطرح کوي؟

"يو وړانديز شوی قانون: ترڅو د ځايي او توريس سټريټ ټاپو د غږ په رامنځته کولو سره د آستراليا د ځايي او توريس سټريټ ټاپوګانو د خلکو د پيژندنې لپاره په اساسي قانون کې بدلون رامنځته شي. ايا تاسو دا وړانديز شوی بدلون تصويب کوئ؟"

## زه څرنګه کولی شم په دې ريفرنډم کې رايه ورکړم؟

ټولپوښتنې د ټاکنو په څېر دي. تاسو ته به د پورتنۍ پوښتنې سره د رايې ورکولو پاڼه درکړل شي او تاسو اړتيا لرئ چې په انګليسي ژبه کې 'YES' (هو) يا 'NO' (نه) وليکئ ترڅو ستاسو رايه وشمېرل شي. که تاسو 'YES' وليکئ نو دا په مانا ده چې تاسو موافق ياست چې د ځايي او د توريس سټرات ټاپو خلک بايد د هغو ستونزو په اړه غږ پورته کړي چې پر دوی مستقيمه اغېزه کوي. .

## که د خلکو اکثريت رايه YES (هو) وي څه به کيږي؟

که چيرې اکثريت خلک غږ ته Yes رايه ورکړي، نو دولت به بيا د ځايي او توريس سټريټ ټاپو له خلکو سره مشوره کوي ترڅو دا طرحه نهايي کړي او د غږ رامنځته کولو لپاره اړوند قوانين تصويب کړي.



Tabatha Feher, Life Without Barriers, L6, 107 Pitt St, Sydney, NSW. :تصويب شوي

## که د خلکو اکثریت NO (نه) رایه ورکړي څه به کیږي؟

که د خلکو اکثریت ‘No’ رایه ورکړي، هیڅ بدلون به نه رامنځته کیږي. هغه ستونزې چې ځایي او د توریس سټریټ ټاپو خلک ورسره مخ دي هغه دوام به ورکړي. د ‘No’ رایه پدې مانا ده چې تاسو غږ ته د نه رایه ورکړئ، پدې ریفرنډم کې د ځایي او توریس سټریټ ټاپو خلکو ملاتړ کولو لپاره کوم بدیل شتون نه لري.

## زه نور مالومات چیرته ترلاسه کولی شم؟

**نور مالومات**

www.lwb.org.au



Tabatha Feher, Life Without Barriers, L6, 107 Pitt St, Sydney, NSW. :تصویب شوي